مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبد الغفور لیوال ۲۰۲۰/۰۳/۰۲

# د سولې او جګړې افسانه

ډيکشنريو د انګريزی Narrative ؛ افسانه، کيسه، روايت او د يوه فکر روايتی کرښه ترجمه کړې ده.
په سياسي ادبياتو کې د يوه سياسي ـ پوځي بهير يا لوري هغې فکري کرښې ته هم وايي، چې د دغه جريان ورڅخه انګيزه و الهام اخلي.

شاوخوا څلوېښت کاله پخوا په افغانستان کې دوو ښکېلو لوريو د جګړې پر افسانه ( Narrative) ټينګار کاوه او په خلکو کې هم د جګړې لپاره انګيزه وه. د دواړو لوريو خيرونو د ټوپک انځورونه خپرول او ټوپک سپېڅلی ګڼل کېده. د تنظيمونو په نښانونو کې غبرګو تورو د غنم وږيو ځای نيولی و، په کابل کې ان د ليکوالود انجمن په رسمي لوګو کې هم د قلم ترڅنګ د يوه ټوپک انځور و.

کلونه واوښتل، بېشمېره سرونه ورغړېدل او د وينو سيندونه وبهېدل، ايله چې دغه افسانه ( Narrative) واوښته، اوس نو د سولې سپينه کوتره وه / ده، چې هرځای نيغه نيغه کيږي، خو سوله لاهم نه شته.

سوله به راشي. مهمه دا ده، چې عامه انددود (ذهنيت) Public Mentality د سولې په لوري اوښتې او حاکم ذهنيت د سولې د افسانې Narrative په بهير کې جاري دی.

اوس نو د جګړه خوښيو ځواکونو لپاره سخته ده، چې نامکنه ده، خلک جګړې ته وهڅوي.
دوه دري لسيزې وړاندې که چا د سولې خبره کړې وای؛ مات شوی، ډارن، بېغيرته او خاين ګڼل کېده، خو اوس هرلوری هڅه کوي، خپل مخالف په دې تورن کړي، چې د سولې مخه نيسي.

د جګړې لپاره د انګېزې پای داسي دی، لکه ستاسو په تيليفون کې چې بربېښنازېرمه ( چارج) پای ته رسېدلې وي، تاسو پوهېږئ، چې څو ثانيې روسته تيليفون مرکيږي، نو بايد خپلې روستۍ مهمې خبرې وکړئ.

بربېښنازېرمه د تيليفون ماهيوي روايت يا افسانه Narrative وګڼئ، تيليفون به درسره وي، خو کار به نه کوي. تر دې روسته به د جګړې له لوريو سره وسله وي، خو کارولی به يې نه شي، ځکه انګيزه يا د اوږدولو روايت Narrative به يې نه وي.

که د جګړې ښکتنيو کرښو او ټوپکوالو پوځل د سوله ييز، انساني او عادي ژوند خوند وليد او د انسانوژني لپاره يې فکري ـ رواني تومنه ( بربېښنازېرمه، چارج، روايت، Narrative) مړ شو، بيا نو ډېره خواري بويه، چې بېرته يې د جګړې کرښو ته واستوئ.

هغه دوښمن پردي، چې د افغانستان په جګړه کې يې د خپلو ګټو لپاره پانګونه کړې وه، ځکه په دې ورځو کې وارخطا دي، چې په کوزنيو کرښو کې له جګړې کرکه له ورايه ويني.

د اورکړ او اوربند خوند د جګړې چارج روستيو ثانيو ته رسولی دی، وارخطايي همدلته ده، هر لوری بايد روستۍ خبرې وکړي او که نه دا تيليفون مړ کيږي.

وروستۍ ثانيي دي، په ډيپلوماتيکه ژبه او پوښ کې خبرو ته وخت نه شته، که نه د بهرنيو چارو کوم وزير به د يوه بل هيواد ملت ته د داسي يا هسي کولو قومانده ورکړي؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولئ